مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عمر توخی

۲۰۲۳/۰۷/۳۰

# د دين په نوم د هر جاهل خبره د منلو وړ ده؟

عجيبه ده چي له يو منبر او سټېج څخه دوې متضادي فتواوي، فرمانونه او يا امرونه په عيني وخت کي ږغول کيږي او دواړه هم د اسلام او شريعت له ادرسه څخه.

اوس سوال خلګو ته پيدا سي چي دا رښتيا دين دی چي داسي بې منطقه او انساني ضد امرونه يې کړي؟ او که دا د دغو جاهلو، بېسوادو او د انګرېز او پنجاب په لاس د تربيه سوو خپل د خبېتي محصول دی؟

داسي يو دين به چا ته د منلو وړ وي چي خپل پيروان جهالت او ناپوهی ته هڅوي؟

نږدې دوه کاله کيږي چي د دين او اسلام په نوم يې د زده کړو مخه نيولې، خو زموږ ځني ساده ګان اوس هم ځانونه غولوي چي پنجاب به د زده کړو له پاره يو اسلامي او شرعي سيسټم راته جوړ کړي.

ځنو ساده ګانو په هم دغه افغان جرمن انلاين کي زما سره بې منطقه استدلال کوی چي د پنجاب مزدوران بايد انتقاد نه سي، بايد وخت ورکړل سي هر څه سميږي، ويل يې دا خو سوچه مسلمانان دي. نه پو هيږم چي اوس به څه استدلال کوي؟

اصلي خبره دا ده چي ځوک چي پنجاب او د هغو روزل سوو او تربيه سوو ته د مسلمان په سترګه ګوري هيڅکله به يې ګټه افغانستان او افغان ته و نه رسيږي.

هغه تفدانی شيخ احديث ته ورواړوئ چي...






افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ